# اصول التکفیر

پښتو

تالیف

حضرت مولانا مفتی محمد ابراهیم حقانی

فاضل دار العلوم حقانیه اکوړه ختک پاکستان

نظرثانی وتصحیح

افضل حسین الحسینی

شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الستار مدظله العالی

ودیگر علماء کرام

مکتبه فاروقیه
محله جنگی پشاور
0300-9007550
0300-5999052

## د کتاب پیژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | أصول التكفير |
| تاليف | حضرت مولانا مفتی محمد ابراهيم ( حقاني)<br>فاضل دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک |
| نظر ثاني وتصحيح | شيخ الحديث حضرت مولانا افضل حسين (الحسيني) |
| پسند فرموده | شيخ الحديث حضرت مولانا عبد الستار مدظله العالي وديگر علماء کرام |
| برېښنايي کوونکی | عزت الله سلطانزی |
| اړيکه | 0706912702 |

# تقريظ

## أستاذ العلماء والمدرسين بقية العلماء الراسخين الشيخ مولنا عبدالستار أستاذ الحديث بجامعة العلوم الإسلامية زرجرى باكستان.

الحمدلوليه والصلوة على نبيه محمد وعلى آله وصحبه وسلم،وبعد: فإني طالعت بعض المباحث المهمة من كتاب أصول التكفير الذي ألفه أخونا في الله مولنا مفتي محمد إبراهيم فأعجبت به جدا وادعوالله سبحانه وتعالى أن يتقبله بقبول حسن وأن يجعله سدأ لفتنة التكفيروالإرتداد وأن يجعله من الباقيات الصالحات للمؤلف المحترم حفظه الله تعالى.

# تقريظ

## جامع المعقول والمنقول الشيخ حضرت مولنا محمد إبراهيم الفاني بن شيخ المشايخ شيخ الحديث مولنا عبد الحليم رحمه الله تعالى المدرس بجامعة دار العلوم الحقانية اكوره ختك باكستان.

الحمد لله وحده والصلوة والسلام على من لانبي بعده.

أما بعد: عرض دادى چه مادگران اومحترم ورورمولانا مفتي محمد إبراهيم حقاني زيدمجده ليكلى شوى رساله ځاى په ځاى باندي وكتله دأصول تكفير په مسئله باندى ئي ډير ژوراوعميق تحقيق كړي دى.

فاضل مؤلف دوخت دتقاضا موافق په دي اهمه مسئله باندي قلم اوچت كړو، دفاضل محترم درسالي دعنواناتو نه اندازه لګي چه هغوى ډير زيات زياراودمحنت نه كاراغستى دى اودزرګونوپاڼونچوړاو خلاصه ئي خواصواوعواموته پيش كړيده.

زما دعاده چي الله پاك دې ددوى دامحنت قبول كړي اودارساله دي دټولوخلكودپاره دفائدې ذريعه وګرځوي، آمين يارب العالمين.

ددعاګانو محتاج: محمد إبراهيم فاني عفي عنه خادم العلم بجامعة دارالعلوم الحقانية اكوره ختك ٢٥ جمادي الثانية سنة ١٤٣٢ هـ

# تقريظ

## جامع المعقول والمنقول أستاد العلماء وارث الانبياء شيخ الحديث مولنا أفضل حسين الحسيني أستاذ الحديث بجامعة العلوم الإسلامية زرجرى باكستان:

الحمد لله وكفى ،وسلام على عباده الذين اصطفى .

أمابعد :فقدسرحت النظر فى رسالة أصول التكفير لفضيلة الشيخ العلامة محمد إبراهيم حقاني حفظه الله تعالى فوجدت أن أصول التكفير المذكورة فيها موافقة لما جاء فى القرآن والسنة النبوية على صاحبها الصلوة والسلام ولخصت فيها الأحكام ذا صلة بترتيب جيد وعبارة واضحة منضبطة فجز الله تعالى المؤلف ووفق المسلمين جميعا للعمل بالشريعة الغراء والله سبحانه وتعالى هوالموفق والمعين .أفضل حسين

# تقريظ

## ماهر العلوم العقلية والنقلية استاذ الاحاديث النبوية شيخ الحديث المولوى محمد معلم بجامعة منهاج العلوم نرياب باكستان

الحمد لأهله والصلوة على أهلها وبعد: يقيناچې په امت مسلمه باندي له هرې خوا دفتنو څپې راروانې دي اوټولې كفري نړۍ دمسلمانانو خپلو ته متې رانغښتې اودمسلمانانو دمعصومو بچيانو دتكفير اوتنصير هڅې كوي اودې شوم مقصد ته درسيدولپاره ئي ټولې نظامي اومادي وسائل په كاراچولي اوله بلې خوا بدبختانه دامت جهل اوله خپل دين څخه ناخبرتيا هم دډيرو مسلمانانود كفر اوله اسلام څخه دخروج وسيله ګرځي.

محترم مولانا مفتي محمد إبراهيم صاحب دكفارو داخطرناكې دسيسې اودامت ضعف اوكمزورتيادرك كړې اوډيره په موقعه ئي دامت دستګيري كړې اوديوې رسالې په شكل كښې چې په اصول التكفير سره ئي نومولې ددې ټولو دسائسو اوفتنو لپاره يوسد سكندر تيار كړې.

مادا رساله وكتله ډيره په زړه پورې او دحنفي مذهب موافق مې اومندله بايد عام اوخاص مسلمانان ورڅخه استفاده وكړي اودځان لپاره ئي مشغل راه وګرځوي.

بنده محمد معلم خويدم الأحاديث النبوي بجامعة منهاج العلوم نرياب باكستان

## مقدمة المؤلف

الحمدلله الذى أنزل القرآن المبين،يرفع به أقواماويضع به آخرين ،وبعث محمدارسولا آمينا فى الأميين ، فجعله أعلم الأولين والآخرين، وخاتم النبيين وسيد المرسلين ،فاللهم صل وسلم، وبارک عليه صلوات زاكية،وتسليمات عالية،وبركات إلى يوم الدين،وعلى اله الطيبين الطاهرين،وأصحابه أجمعين

أمابعد:محترمو مسلمانانوتاسوته دي معلومه وي ،چه ټولانسانان اوپيريان الله تعالى ﷻ دخپل عبادت لپاره پيدا کړي دي نو په ټولو باندي طلب دعلم دين فرض دي ،خصوصا علم دهغو الفاظو اوافعالو فرض دي چه مسلمان په هغي باندي کافر کيږي ،ددي وجې ځخه علامه ابن عابدين رحمه الله تعالى ذکر کړي دي چه علم دهغو الفاظوچه حرام دي اويا په هغي باندي مسلمان کافر کيږي فرض دي اوزمادى قسم وي چه دا ډير مهم علم دي په نن زمانه کي ځکه چه ته ډير خله دعوامو ځخه اوري چه دوي خبري کوي په هغه شي باندي چه دوي په هغي باندي کافر کيږي .اودوي دهغي ځخه بى خبره دي (۱)

احتياط دادي چه جاهل انسان دى په هره ورځ کى تجديد دايمان کوي ، اوهره مياشت کى بايد دوي ددووشاهدانو په مخ کي يوځل اويا دوه ځله په خپله ښځه

---

۱- قال العلامة ابن عابدين :وَفِي تَبْيِينِ الْمَحَارِمِ :لَا شَكَّ فِي فَرْضِيَّةِ عِلْمِ الْفَرَائِضِ الْخَمْسِ وَعِلْمِ الْإِخْلَاصِ ؛ لِأَنَّ صِحَّةَ الْعَمَلِ مَوْقُوفَةٌ عَلَيْهِ وَعِلْمِ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ وَعِلْمِ الرِّيَاءِ ؛ لِأَنَّ الْعَابِدَ مَحْرُومٌ مِنْ ثَوَابِ عَمَلِهِ بِالرِّيَاءِ . وَعِلْمِ الْحَسَدِ وَالْعُجْبِ إذْ هُمَا يَأْكُلَانِ الْعَمَلَ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ . وَعِلْمِ الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ وَالنِّكَاحِ وَالطَّلَاقِ لِمَنْ أَرَادَ الدُّخُولَ فِي هَذِهِ الْأَشْيَاءِ.

وَعِلْمِ الْأَلْفَاظِ الْمُحَرَّمَةِ أَوْ الْمُكَفِّرَةِ ، وَلَعَمْرِي هَذَا مِنْ أَهَمِّ الْمُهِمَّاتِ فِي هَذَا الزَّمَانِ ؛ لِأَنَّك تَسْمَعُ كَثِيرًا مِنْ الْعَوَامّ يَتَكَلَّمُونَ بِمَا يُكَفِّرُ وَهُمْ عَنْهَا غَافِلُونَ اهـ ردالمحتار

قال العلامة علي القاري رحمه الله تعالى :يجب على كل أحد معرفة الكفريات أقوى من معرفة لإعتقاديات فإن الثانية يكفى فيهاالإيمان الإجمالى بخلاف الأولى فإنه يتعين العلم التفصيلي لاسيمافى مذهب إمامنا الحنفي. اهـ شرح ملا علي القاري

نكاح تازه كړي ، ځكه چه خطا ني اگركه دسړي څخه صادره نشي ،نو دښځو څخه ډيره صادريږي ،همدارنگه په ردالمحتاركى ذكرشويدي[1] [ ١ ]

هركله چه اكثره مسلمانان دخپل دين څخه بي خبره دي ،اوكله كله ددوي څخه داسي الفاظ اوافعال صادريږي چه دوي په هغي باندي كافر كيږي ،نو ما اراده وكړه چه زه داسي يوه رساله وليكم چه هغه مشتمله وي په بيان دهغو شيانو چه دهغي علم په نر اوښځه باندي فرض عين دي ،او په بيان دهغو الفاظو اوافعالوچه إجتناب دهغى څخه فرض دي ، ځكه چه په هغى الفاظو اوافعالوسره دمسلمان ايمان ختميږي .

نوماته الله تعالى ﷻ توفيق راكړو اومادډغي رسالي مسوده په سنه ١٤٣٠ هـ كى تياره كړه ،اواوس مى په سنه ١٤٣١ هـ دذوالقعدي په مياشت كي دغي رسالي ته ترتيب وركړو .

نوزه دټولو مسلمانانو څخه داخوهش كوم چه ددغي رسالي څخه اول په خپله إستفاده وكړي ،اوبيا دي ددغى رسالي مسائل اواحكام نورو انسانانو ته ورسوي ، اوثواب دارين دى حاصل كړي

اودغه رساله ما مسمى كړه په اصول التكفيرباندي .اوزه دالله تعالى ﷻ څخه داسوال كوم چه په دغه رسالى سره ټولو خلكو ته فائده ورسوي ، اوالله تعالى ﷻ دى دغه رساله زما دپاره او زما دوالدينواواستاذانو اوجمله مسلمانانودپاره ذريعه دنجات وگرځوي .آمين يا رب العالمين .

كتبه : محمد ابراهيم ( الحقاني ) في شهر ذي القعدة سنة ١٤٣١ هـ

---

[1] - قال العلامة ابن عابدين .وَالاحتياطُ أنْ يُجَدِّدَ الجَاهلُ إيمانَهُ كُلَّ يومٍ وَيُجَدِّدَ نكَاحَ امرَأتِه عندَ شاهدَيْنِ في كُلِّ شَهرٍ مَرَّةً أوْ مَرَّتَيْنِ ، إذ الخَطَأ وَإنْ لَمْ يَصْدُرْ مِنَ الرَّجُلِ فَهُوَ مِنَ النِّسَاءِ كَثيرٌ .ردالمحتار

## تعريف دإيمان

إيمان په لغت کي تصديق اوباور کولو ته وائي ، او په اصطلاح کی اقرار کول په ژبه اوتصديق کول په زړه باندي په داچي الله تعالى يودي شريك نلري ،اونبي كريم ﷺ دالله تعالى بنده اورسول دی.

اوهرڅوك چه اراده لري چه هغه دی دأمة دنبي كريم ﷺ څخه حساب شي ،پس هغه په ژبه داكلمه ووائي چه لا إله إلا الله محمد رسول الله ،اوپه زړه کي ددي كلمي په معنى باندي تصديق وکړي نوهغه مؤمن دی،همدارنګه په أبوالمنتهي کی ذکرشوي دي.

دکلمه طيبه معنى داده : نشته لائق دعبادة اومعبود برحق مگر يوالله تعالى ﷻ ده اومحمد ﷺ دالله تعالى ﷻ رسول ده .

## صرف په خوله باندي دکلمي په لوستلو باندي إنسان مؤمن کيدی نشي

مفتي كفايت الله رحمه الله ذکر کړيدي چه صرف په خوله باندي دکلمي په لوستلو باندي إنسان مسلمانيدي نشي ،بلکه معنى پوهيدلو سره زړه سره يقين کول اوژبي سره اقرار کول ضروري دي .اهـ تعليم الإسلام

همدارنګه داخبره علامه ألوسي په روح المعاني کي ذکر کړيدي .([1])

هرکله چه مسلمان ووائي چه ماايمان راوړی په الله تعالى ﷻ اوزه عقيده کوم په هغه شی چه هغه په نزد دالله تعالى ﷻ حق وي ،نو دداسي مسلمان اجمالي ايمان ثابتيږي ،خودايمان تفصيلي علم هم په ده باندي فرض عين دی .

همدارنګه په أبوالمنتهي اوشرح دملاعلي قاري کی ذکر شوي دي .

---

[1] - قال العلامة الالوسي في تفسير آخرسورة الأعراف تحت الآية [ ٢٠٥ ]: قال الإمام : المراد بالذكر في نفسه أن يكون عارفاً بمعان الأذكار التي يقولها بلسانه مستحضراً لصفات الكمال والعز والعظمة والجلال. وذلك لأن الذكر باللسان عارياً عن الذكر بالقلب كأنه عديم الفائدة .

بل ذكر جمع :أن الذكر اللساني الساذج لاثواب فيه أصلاً .

ومن أتى بالكلمة الطيبة غير ملاحظ معناها أو جاهلاً به لايعد مؤمناً عند الله تعالى .اهـ روح المعاني

## إيمان تفصيلي

إيمان تفصيلي داده چه مؤمن مسلمان داسي ووائي.آمنتُ بالله، وَمَلَائكته، وكُتُبِه، ورُسُلِه، والْيَوْمِ الْآخِرِ، والْقدرِ،خيْرِه وشَرِّه منَ الله تعالى والبعث بعد الموتِ.

معنى ددي الفاظو داده ،زه باور اوتصديق كوم په الله تعالى چه يودي شريك نلري اوما إيمان راوړی ده په ملا ئكو دالله تعالى باندې ، اوما إيمان راوړي ده په كتابونو دالله تعالى باندې ، اوما إيمان راوړي ده په رسولانو دالله تعالى باندې ، اوما إيمان راوړي ده په ورځ دقيامت باندې، اوما إيمان راوړي ده په تقدير دخير اوشر باندې ،چه دواړه دالله تعالى له طرف څخه دي اوپه راپورته كيدلواوژوندي كيدلو پس له مرگ څخه.

## إيمان إجمالي

إيمان إجمالي داده چه مؤمن مسلمان داسي ووائي .آمنتُ بالله كماهوبأسمائه وصفاته وقبلتُ جميعَ أحكامه ،إقرارٌ باللسانِ وتَصديق بالقلب.

معنى ددي الفاظو داده ، زه باور اوتصديق كوم په الله تعالى لكه څنگه چه ما إيمان راوړی ده په ټولونومونو اوټولوصفتونو دالله تعالى باندې ،اوما قبول كړيدي ټول أحكام دالله تعالى ،زه اقرار كوم په ژبه باندې اوتصديق اوباور كوم په زړه باندې .

## تعريف د إسلام

اسلام په لغت كي مطلق تسليم كيدلوته وائي ،اوپه اصطلاح دشرع كی تسليم كيدل اوعاجزي كول اوغاړه كيښودل ټولواحكامو دالله تعالى ﷻ ته وائي.

## تعريف د دين

دين نوم دهغه شی ده چه إطلاق ني په إيمان اوإسلام او په ټولو احكامو دشريعت باندې كيږي.

## فرائض د دين د إسلام

فرائض د دين إسلام چه دهغي څخه تعبير کيږي په پنځ بناء، داسلام سره هغه پنځه شيان دي اول کلمه طيبه ده، دوهم لمونځ ده، دريم روژه ده، څلورم زکاة ده، پنځم حج ده.[1]

## حکم دهغه مسلمان چه په صفت داسلام نه پوهيږي

اوکه له چا څخه داسلام پوښتنه وشي، اودی ورته ووائي چه زه په صفت داسلام نه پوهيږم نو دغه مسلمان باندي دکفر حکم کيږي.

اوشمس الائمه الحلواني ذکر کړي دي چه دده دين او لمانځه اوروژي ته اعتبار نشته، همدارنگه په فتاوی عالمگيري کي هم ذکرشوي دي.[2]

ليکن ملاعلي قاري ذکر کړيدي چه هرکله سړی په ژبه اقرار وکړي اوپه زړه باندي تصديق وکړي نوهغه په اجماع سره مسلمان دی، اگرچه په صفت داسلام نه پوهيږي، ددی داسي مثال ده لکه چه څوك يوشی خوري ليکن نه ئي پيژني، اويا لمونځ اوروژه اداء کوي او شرطونه اورکنونه ئي نه ئي پيژني. اهـ شرح ملاعلي قاري همدارنگه په ردالمحتارکي هم ذکرشوي دي.[3]

---

[1] - عن ابن عمر قال: قال رسول الله ﷺ: بني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدا عبده ورسوله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة والحج وصوم رمضان. اهـ متفق عليه

[2] - في الفتاوى الهندية: مَنْ قَالَ لَا أَدْرِي صِفَةَ الْإِسْلَامِ، فَهُوَ كَافِرٌ وَذَكَرَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ الْحَلْوَانِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى هَذِهِ الْمَسْأَلَةَ، وَبَالَغَ فِيهَا فَقَالَ: هَذَا رَجُلٌ لَيْسَ لَهُ دِينٌ وَلَا صَلَاةٌ وَلَا صِيَامٌ وَلَا طَاعَةٌ وَلَا نِكَاحٌ وَأَوْلَادُهُ. أَوْلَادُ الزِّنَا اهـ الهندية

[3] - قال العلامة الحصكفي: وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يَسْأَلَ الْعَامِّيَّ عَنْ الْإِسْلَامِ بَلْ يَذْكُرُ عِنْدَهُ حَقِيقَتَهُ، وَمَا يَجِبُ الْإِيمَانُ بِهِ، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: هَلْ أَنْتَ مُصَدِّقٌ بِهَذَا؟ فَإِذَا قَالَ نَعَمْ اكْتَفَى بِهِ. وَلَا يَضُرُّ تَوَقُّفُهُ فِي جَوَابِ مَا الْإِيمَانُ مَا الْإِسْلَامُ فَتْحٌ.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قَوْلُهُ: وَلَا يَضُرُّ تَوَقُّفُهُ إلَخْ، فَإِنَّ الْعَوَامَّ قَدْ يَقُولُونَ: لَا نَعْرِفُهُ، وَهُمْ مِنْ التَّوْحِيدِ وَالْإِقْرَارِ وَالْخَوْفِ مِنْ النَّارِ وَطَلَبِ الْجَنَّةِ بِمَكَانٍ. وَكَأَنَّهُمْ يَظُنُّونَ أَنَّ جَوَابَ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ إنَّمَا يَكُونُ بِكَلَامٍ خَاصٍّ مَنْظُومٍ فَيُحْجِمُونَ عَنْ الْجَوَابِ بَحْرٌ عَنْ الْفَتْحِ. اهـ رد المحتار

## د كفر څخه د نجات حاصلولو دعاء

مناسب ده چه هر مسلمان هر صبا او بیګا دغه لاندي دعاء ووائي څکه چه ددغي دعاء په برکت سره د کفر څخه نجات حاصلیږي ، هغه دعاء دادي :
{ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَأَنَا أَعْلَمُ ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا أَعْلَمُ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ } همدارنګه په فتاوی عالمګیري اوالدر المختار کي ذکرشوي دي

## تعریف د کفر

کفرپه لغت کي پټ والي ته وائي اوپه اصطلاح دشرع کی تکذیب اوانکار دهغه دین څخه چه په کوم دین باندي نبي کریم ﷺ راتلل کړیدي ، همدارنګه په فتاوی ردالمحتار کي هم ذکرشوي دي [1].

## تعریف د مرتد

مرتدپه لغت کي مطلق رجوع کوونکي ته ویل کیږي ،اوپه اصطلاح کي مرتد هغه چاته ویل کیږي چه هغه رجوع کړي وي ددین داسلام څخه ردالمحتار [2] [ ۲ ]

## رکن اوشرائط د کفر

رکن دردة هغه ویل دکلمي دکفر دي وروسته له إیمان څخه ،اوشرائط دردة اوکفر هغه عقل اورضائیت دي نوبناء پردی کچیرته دکوم لیوني اویا دبی عقل هلك دخولي څخه الفاظ ،کفرخارج شول نوپه دوي دکفر حکم نه کیږي

---

۱ - وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى . والكُفْرُ لغةً : السَّتْرُ . وشرعًا . تكذيبُهُ ﷺ في شيءٍ مما جَاءَ به من الدِّين ضرورةً . اهـ ردالمحتار

۲ - وقال الحصكفي . المرتدّ هو لغةً الراجعُ مطلقًا وشرعًا الراجعُ عن دينِ الإسلام . اهـ ردالمحتار

همدارنګه که څوك دنشې په حالت کې مرتدشي په داسې حالت کې چه عقل ئې زائله شوي وي نو په دوي هم دکفر حکم نه کیږي.

لکن په اشباه کې ذکرشوي دي چه که چادنشې په حالت کې نبي کریم ﷺ ته کنځل وکړونو هغه به قتل کیږي ،او عفو به نه ورته کیږي.

همدارنګه که څوك په کفرباندې مجبور شي ، یعني کافر ورته ووائي چه دغه الفاظ دکفر ووایه ورنه قتل به دکړم نو داسې حالت کې په دوي هم دکفر حکم نه کیږي تر چه ددوی په زړه کې ایمان وي ،اواراده ئې دکفر هم نوي.

اوکه څوك پخپله رضااو طبعیت سره په ژبه باندې کافرشي ،نو دده په زړه کې اګرکه ایمان وي بیا هم پده باندې دکفر حکم کیږي.

بالغ والی اونروالی دشرطونو دردة اوکفر څخه ندي ،نوکچیرته دکوم عاقل هلك اویا ښځې څخه الفاظ دکفرخارج شول نوپه دوي دکفر حکم نه کیږي ،همدارنګه په فتاوی عالمګیري اوردالمحتارکې هم ذکرشوي دي.[1]

## حکم دمرتد

هرکله چه کوم مسلمان مرتد شي نو ده لره به إسلام پیش کیږي ،اودده په زړه کې که کومه اشتباه وي دهغې ازاله به کیږي نوکه لدې وروسته مسلمان شو

---

[1] - فی الفتاوی الهندیة : وَرُكْنُ الرِّدَّةِ إجْرَاءُ كَلِمَةِ الْكُفْرِ عَلَى اللِّسَانِ بَعْدَ وُجُودِ الْإِيمَانِ وَشَرَائِطُ صِحَّتِهَا الْعَقْلُ فَلَا تَصِحُّ رِدَّةُ الْمَجْنُونِ وَلَا الصَّبِيِّ الَّذِي لَا يَعْقِلُ ، أَمَّا مَنْ جُنُونُهُ يَنْقَطِعُ ، فَإِنْ ارْتَدَّ حَالَ الْجُنُونِ لَمْ تَصِحَّ . وَإِنْ ارْتَدَّ حَالَ إفَاقَتِهِ صَحَّتْ وَكَذَا لَا تَصِحُّ رِدَّةُ السَّكْرَانِ الذَّاهِبِ الْعَقْلِ وَالْبُلُوغُ لَيْسَ بِشَرْطٍ لِصِحَّتِهَا ، وَكَذَا الذُّكُورَةُ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ لِصِحَّتِهَا ، وَمِنْهَا الطَّوْعُ فَلَا تَصِحُّ رِدَّةُ الْمُكْرَهِ عَلَيْهَا كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ نَاقِلًا عَنْ الْبَدَائِعِ ، رَجُلٌ كَفَرَ بِلِسَانِهِ طَائِعًا ، وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ يَكُونُ كَافِرًا وَلَا يَكُونُ عِنْدَ اللَّهِ مُؤْمِنًا كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ .اهـ الهندیة

قال القونوی رحمه الله تعالی: ولو تلفظ بکلمة الکفر طائعا غیر معتقد له یکفر لأنه راض بمباشرته وإن لم یرض بحکمه کالهازل به فإنه یکفروإن لم یرض بحکمه ولایعذر بالجهل وهذاعند عامة العلماء خلافاللبعض .اهـ شرح ملا علي القاری

خوږيره ښه ده اوكه في الحال مسلمان نشو، بلكه مهلت ئې وغوښتلو نو دري ورځي به مهلت وركول كيږي ، نو كه له دريوورځوپورې مسلمان شو خوږيره ښه ده اوكه مسلمان نشونوبيابه قتل كيږي ،اوكه مهلت ئې ونه غوښتلونو في الحال نو بيابه قتل كيږي.

اوعاقل هلك اوښځه چه كافرشي نو په إسلام باندي به مجبوره كيږي لكن نه به وژل كيږي . همدارنگه په فتاوى عالمگيري كي هم ذكرشوي دي .([1])

## حكم دمرتدي ښځي

اوكه كومه ښځه مرتده شي په دغه خاطر چه دخپل ميړه څخه جداشي ،نو دغه ښځه به په إسلام اوتجديد نكاح باندي به مجبوره كيږي ،اونكاح به پري تړل كيږي اگركه په لږ مهر هم وي ،همدارنگه په ردالمحتاركي هم ذكرشوي دي ([2])

---

[1] - في الفتاوى الهندية : إذَا ارتَدَّ المُسلمُ عَنِ الإسلام والعِيَاذُ بِالله عُرِضَ عَلَيهِ الإِسلامُ ، فَإِن كَانَت لَهُ شُبهَةٌ أَبدَاهَا كُشِفَت إلا أنّ العَرضَ عَلَى مَا قَالُوا غَيرُ وَاجِبٍ بَل مُستَحَبٌّ كَذَا فِي فَتحِ القَدِيرِ وَيُحبَسُ ثَلَاثَةَ أيامٍ فَإِن أسلَمَ وَإِلَّا قُتِلَ هَذَا إذَا استَمهَلَ ، أَمَّا إذَا لَم يَستَمهِل قُتِلَ مِن سَاعَتِه وَلَا فَرقَ فِي ذَلكَ بَينَ الحُرِّ وَالعَبدِ كَذَا فِي السِّرَاجِ الوَهَّاجِ . فَإِن قَتَلَهُ قَاتِلٌ قَبلَ عَرضِ الإِسلَامِ عَلَيهِ ، أَو قَطَعَ عُضوًا مِنهُ كُرِهَ ذَلكَ كَرَاهَةَ تَنزِيهٍ هَكَذَا فِي فَتحِ القَدِيرِ فَلَا ضَمَانَ عَلَيهِ لَكِنَّهُ إذَا فَعَلَ بِغَيرِ إذنِ الإِمَامِ أُدِّبَ عَلَى مَا صَنَعَ كَذَا فِي غَايَةِ البَيَانِ

وَإِذَا ارتَدَّ الصَّبِيُّ . وَهُوَ يَعقِلُ فَارتِدَادُهُ ارتِدَادٌ عِندَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ - رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى - وَيُجبَرُ عَلَى الإِسلَامِ وَلَا يُقتَلُ كَذَا فِي السِّرَاجِ الوَهَّاجِ وَكَذَا إذَا ارتَدَّ الصَّبِيُّ المُرَاهِقُ هَكَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخسِيِّ

وَلَا تُقتَلُ المُرتَدَّةُ بَل تُحبَسُ حَتَّى تُسلِمَ وَتُضرَبُ فِي كُلِّ ثَلَاثَةِ أيامٍ مُبَالَغَةً فِي الحَملِ عَلَى الإِسلَامِ ، وَلَو قَتَلَهَا قَاتِلٌ لَا يَجِبُ عَلَيهِ شَيءٌ لِلشُّبهَةِ

وَالصَّغِيرَةُ العَاقِلَةُ كَالبَالِغَةِ وَالخُنثَى المُشكِلُ كَالمَرأَةِ هَكَذَا فِي النَّهرِ الفَائِقِ . وَلَا تُستَرَقُّ الحُرَّةُ المُرتَدَّةُ مَا دَامَت فِي دَارِ الإِسلَامِ فَإِن لَحِقَت بِدَارِ الحَربِ فَحِينَئِذٍ تُستَرَقُّ إذَا سُبِيَت .كَذَا فِي فَتحِ القَدِيرِ .اهـ الهندية

[2] -قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: (لَو ارتَدَّت) لِمَجِيءِ الفُرقَةِ مِنهَا قَبلَ تَأكُّدِهِ وَلَو مَاتَت فِي العِدَّةِ وَرِثَهَا زَوجُهَا المُسلِمُ استِحسَانًا . وَصَرَّحُوا بِتَعزِيرِهَا خَمسَةً وَسَبعِينَ ، وَتُجبَرُ عَلَى الإِسلَامِ وَعَلَى تَجدِيدِ النِّكَاحِ زَجرًا لَهَا بِمَهرٍ يَسِيرٍ كَدِينَارٍ وَعَلَيهِ الفَتوَى

## حكم د هغو الفاظو چه مسلمان په هغې باندې كافر كيږي

كچيرته كوم مسلمان مرتد شي اودده دخولي څخه كلمات دكفرخارج شي نعوذ بالله نوپه ده باندي خپله ښځه حراميږي ، كه دغه مرتد بيا مسلمان شي نوپخپله ښځه به بيا نكاح تړي ، همدارنگه حج به هم بيا كوي ، لكن په ده باندي دروژي اودلمانځه راگرځول نشته ، ځكه چه سبب دلمانځه اوروژي چه هغه وخت اومياشت درمضان ده موجود ندي ، اودحج سبب موجود دي چه هغه بيت الله ده

اوهمدارنگه كه دچادخولي څخه كلمات دكفرخارج شي ،نومخكي له تازه كولو دنكاح څخه كه دده اولاد پيداشي نو هغه حرامزاده ده .

كچيرته دغه مرتد مسلمان شي اوكلمه دشهادة ووائي په طريقي دعادت سره نو دده كلمي دشهادة ته تر هغه وخته پوري اعتبار نشته تر څو چه ده دالفاظ كفريه

---

ولو الجبيّة . وأفتى مَشَايِخُ بَلْخٍ بِعَدَمِ الفُرْقَةِ بردتها زَجراً وتَيْسِيراً لا سِيَّمَا التي تَقَعُ في المُكَفِّر ثُمَّ تُنكِرُ . قَالَ في النهر . والإفتاءُ بِهَذا أولَى مِنَ الإفتاءِ بِمَا في النَّوادِرِ لكن قَالَ المُصَنِّفُ . وَمَنْ تَصَفَّحَ أحوالَ نساءِ زَمَانِنَا وَمَا يَقعُ مِنهُنَّ مِنْ مُوجِبَاتِ الرِّدَّةِ مُكَرَّراً في كُلِّ يَوْمٍ لَمْ يَتَوَقَّفْ في الإفتاءِ بِرِوَايَةِ النَّوادِرِ .

قال العلامة ابن عابدين تحت ( قَوله وعَلَى تَجديدِ النِّكَاحِ ) فلكُلِّ قاضٍ أنْ يُجَدِّدَهُ بِمَهْرٍ يَسيرٍ ولَوْ بِدينارٍ رَضِيَتْ أمْ لا وتُمْنَعُ مِنَ التَّزَوُّجِ بغيرِهِ بَعْدَ إسْلامِهَا .ولَا يَخْفَى أنَّ مَحَلَّهُ مَا إذَا طلبَ الزَوجُ ذلكَ . أمَا لَوْ سَكَتَ أو تَرَكَهُ صَرِيحاً فَإنَّهَا لَا تُجْبَرُ وتَزَوَّجَ مِنْ غَيْرِهِ لأنَّهُ تَرَكَ حَقَّهُ بَحرٌ ونَهرٌ .

( قَولُهُ زَجراً لهَا ) عِبَارَةُ البَحرِ حَسْماً لبَابِ المَعْصِيَةِ . والحِيلَةُ للخَلاصِ مِنْهُ .ولَا يلْزَمُ مِنْ هَذا أنْ يَكُونَ الجَبْرُ عَلَى تَجْدِيدِ النِّكَاحِ مَقصُوراً عَلَى مَا إذَا ارْتَدَّتْ لأجلِ الخَلاصِ مِنْهُ . بَلْ قَالُوا ذَلِكَ سَدًّا لِهَذا البَابِ مِنْ أصْلِهِ سَواءٌ تَعَمَّدَتْ الحِيلَةَ أمْ لا كَي لا تَجْعَلَ ذَلِكَ حِيلَةً . اهـ ردالمحتار.

وفى البزازية : وماكان فى كفره إختلاف يؤمر قائله بتَجْدِيدِ النِّكَاحِ والتوبة إحتياطا ،وماكان خطأ لايؤمر إلابإستغفاروالرجوع عنه .هذا إذاتكلم الزوج .فإن تكلمت به قال مَشَايِخُ بَلْخٍ و مَشَايِخُ سمرقند والحاكم الشهيد وإسمعيل الزاهد: على أنه لايؤثر فى إفساد النكاح ولايؤمر بتَجْدِيدِ النِّكَاحِ سدا لهذا الباب عليهن ويحبسها الحاكم قدر ماترجع . وعامة علماء بخارى على فَسادالنكاح ولكن تُجْبَرُ عَلَى النِّكَاحِ الأول ولوبِدِينَارٍ .وهذه فرقة بلا طلاق إجماعاولانفقة فى هذه العدة وبهذاكله يفتى .اهـ

ځخه توبه ایستلې نوی ، همدارنګه په تنقیح الفتاوی الحامدیه ،اوفتاوي عالمګیري اوپه المحیط البرهاني کې هم ذکرشوي دي (١)

## په مسلمان باندې دکفرحکم کولو کې احتیاط

په مسلمان باندې به دکفر حکم ترهغه وخته پورې نه کیږي ترڅو چه ممکن وي چه دده خبره په صحیح محمل حمل شي اوصحیح تأویل په کښې وشي.

اویا خوددہ په کفرکې إختلاف وي.

که چیرته په کومه مسئله کې ډیر احتمالات او وجهې داسې وي چې موجب دکفر وي لیکن یو احتمال او وجه داسې هم وي چې موجب دکفر نوي او کفر په هغې سره نه راځي نو مفتي باندې لازم دی چې میلان وکړي دغې وجهې ته او په دغه کس باندې به دتر هغه وخته پورې دکفر حکم نه کوي ترڅو چې دده اراده دهغې وجې او احتمال وي چې هغه موجب دکفر نه وي

اوکچیرې دده اراده دهغې وجې اواحتمال وي چې موجب دکفر وي نو په دغه کس باندې دکفر حکم کیږي

وروسته تر دې به ده لره امر کیږي په توبه ایستلو باندې دکفرڅخه او همدارنګه به نکاح تازه کوي دخپلې ښځې سره همدارنګه په البحرالرائق ،اوفتاوي عالمګیري ،اوشرح دملاعلي قاري کې ذکر شوي دي (١)

---

١ - وفی تنقیح الفتاوی الحامدية : لَوْ ارْتَدَّ وَالْعِيَاذُ بِاللَّهِ تَعَالَى تَحْرُمُ امْرَأَتُهُ وَيُجَدِّدُ النِّكَاحَ بَعْدَ إِسْلَامِهِ وَهُوَ فَسْخٌ عَاجِلٌ فَلَا يَحْتَاجُ إِلَى قَضَاءٍ وَلَا يُنْقِصُ عَدَدُ الطَّلَقَاتِ كَمَا فِي الدُّرِّ الْمُخْتَارِ وَيُعِيدُ الْحَجَّ وَلَيْسَ عَلَيْهِ إِعَادَةُ الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ وَالْمَوْلُودُ بَيْنَهُمَا قَبْلَ تَجْدِيدِ النِّكَاحِ بِالْوَطْءِ بَعْدَ التَّكَلُّمِ بِكَلِمَةِ الْكُفْرِ وَلَدُ زِنًا.

ثُمَّ إِنْ أَتَى بِكَلِمَةِ الشَّهَادَةِ عَلَى الْعَادَةِ لَا يُجْزِيهِ مَا لَمْ يَرْجِعْ عَمَّا قَالَهُ لِأَنَّ بِإِتْيَانِهَا عَلَى الْعَادَةِ لَا يَرْتَفِعُ الْكُفْرُ وَيُؤْمَرُ بِالتَّوْبَةِ وَالرُّجُوعِ عَنْ ذَلِكَ ثُمَّ يُجَدِّدُ النِّكَاحَ وَزَالَ عَنْهُ مُوجِبُ الْكُفْرِ وَالِارْتِدَادِ وَهُوَ الْقَتْلُ كَمَا فِي الثَّالِثِ مِنْ الْبَزَّازِيَّةِ مِنْ الرِّدَّةِ هَذَا إِذَا كَانَ عَالِمًا أَنَّ مَا قَالَهُ كُفْرٌ . اهـ تنقيح الفتاوى الحامدية وهكذافى الهندية

## حکم د هغه چا چه په زړه دده کې داسې کلمات او الفاظ تېر شي چې موجب د کفر وي

که چېرې دچا په زړه کې داسې کلمات او الفاظ تېر شي چې موجب دکفر وي لېکن ترڅو چې ده په هغې باندې خبره نه وي کړې او دغه الفاظ دی بد ګڼي نو دغه انسان په دې سره نه کافر کیږي

او که چېرې کوم انسان دکفر اراده وکړي اګر که سل کاله وروسته هم وي نو دغه انسان فی الحال کافر کیږي ، همدارنګه په فتاوي عالمګیري کې ذکر شوي دي . [2]

## حکم د هغه جاهل انسان چه دده د خولې څخه د کفر خبره خارجه شي

که چېر ته کوم مسلمان په خپل طبعیت او په خپله رضا سره په ژبه باندې کافر شي نو دده په زړه کې اګرچې ایمان هم وي بیا هم په ده باندې دکفر حکم کیږي . اوکه چېرته دکوم مسلمان دخولې څخه کلمه دکفر ووتله په خپل اختیار سره نو عام علماء وایي چې دغه انسان کافر کیږي او دده جهل ته اعتبار نشته .

---

[1] -فی البحر الرائق :وَالَّذِي تَحَرَّرَ أَنَّهُ لَا يُفْتَى بِتَكْفِيرِ مُسْلِمٍ أَمْكَنَ حَمْلُ كَلَامِهِ عَلَى مَحْمَلٍ حَسَنٍ أَوْ كَانَ فِي كُفْرِهِ اخْتِلَافٌ وَلَوْ رِوَايَةً ضَعِيفَةً فَعَلَى هَذَا فَأَكْثَرُ أَلْفَاظِ التَّكْفِيرِ الْمَذْكُورَةِ لَا يُفْتَى بِالتَّكْفِيرِ بِهَا وَلَقَدْ أَلْزَمْتُ نَفْسِي أَنْ لَا أُفْتِيَ بِشَيْءٍ مِنْهَا اهـ

نی الفتاوی الهندیة إذَا كَانَ فِي الْمَسْأَلَةِ وُجُوهٌ تُوجِبُ الْكُفْرَ ، وَوَجْهٌ وَاحِدٌ يَمْنَعُ ، فَعَلَى الْمُفْتِي أَنْ يَمِيلَ إلَى ذَلِكَ الْوَجْهِ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ فِي الْبَزَّازِيَّةِ إلَّا إذَا صَرَّحَ بِإِرَادَةِ تُوجِبُ الْكُفْرَ . فَلَا يَنْفَعُهُ التَّأْوِيلُ حِينَئِذٍ كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ .

ثُمَّ إنْ كَانَتْ نِيَّةُ الْقَائِلِ الْوَجْهَ الَّذِي يَمْنَعُ التَّكْفِيرَ ، فَهُوَ مُسْلِمٌ ، وَإِنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ الْوَجْهَ الَّذِي يُوجِبُ التَّكْفِيرَ لَا تَنْفَعُهُ فَتْوَى الْمُفْتِي ، وَيُؤْمَرُ بِالتَّوْبَةِ وَالرُّجُوعِ عَنْ ذَلِكَ وَبِتَجْدِيدِ النِّكَاحِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ كَذَا فِي الْمُحِيطِ .اهـ الهندية وهكذا في شرح علي القاري

[2] - وفي الهندية: مَنْ خَطَرَ بِقَلْبِهِ مَا يُوجِبُ الْكُفْرَ إنْ تَكَلَّمَ بِهِ ، وَهُوَ كَارِهٌ لِذَلِكَ ، فَذَلِكَ مَحْضُ الْإِيمَانِ ، وَإِذَا عَزَمَ عَلَى الْكُفْرِ ، وَلَوْ بَعْدَ مِائَةِ سَنَةٍ يَكْفُرُ فِي الْحَالِ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ

اوكه چېرته كوم مسلمان په ګپ او ټوكه كې كلمه دكفر ووايي نو اګر چې دده عقيده دكفر نه وي بيا هم په نزد دټولو عالمانو باندې كافر كيږي.(١)

كچېرته يو انسان داسې خبره كوي چې موجب دكفر نه وي لكن په خطا سره دده دخولې څخه كلمه دكفر ووتله نو په ده باندې دكفر حكم نه كيږي. په دنزد دټولو عالمانو باندې.

هر جاهل انسان چه دكفر خبره وكړي اودى په دي خبرنوي چه داد كفر خبره ده نوبعضي عالمان وائي چه دى نه كافر كيږي ، دده جهل ته اعتبار شته .اوبعضي عالمان وائي چه دى پدي سره كافر كيږي.

اوهرچاچه دجهل دوجي څخه دكفر خبره په خپل اختيار سره وكړه نو دى په نزد دعامو عالمانو باندې كافر كيږي . دده جهل ته اعتبار نشته .اوبعضي عالمان وائي چه نه كافر كيږي.

اوكه له چاڅخه دخبرو په وخت كي بغير دقصد اوارادي څخه دكفر خبره ووتله نو پدې سره نه كافر كيږي. همدارنګه په تنقيح الفتاوى الحامديه .اوفتاوي عالمګيري كي هم ذكرشوي دي.(٢)

---

١ - وفي الهندية: إذَا أَطْلَقَ الرَّجُلُ كَلِمَةَ الْكُفْرِ عَمْدًا لَكِنَّهُ لَمْ يَعْتَقِدْ الْكُفْرَ قَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا لَا يَكْفُرُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ: يَكْفُرُ ، وَهُوَ الصَّحِيحُ عِنْدِي كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ
الْهَازِلُ . أَوْ الْمُسْتَهْزِئُ إذَا تَكَلَّمَ بِكُفْرٍ اسْتِخْفَافًا وَاسْتِهْزَاءً وَمِزَاحًا يَكُونُ كُفْرًا عِنْدَ الْكُلِّ . وَإِنْ كَانَ اعْتِقَادُهُ خِلَافَ ذَلِكَ . اهـ الهندية

٢ - وفي تنقيح الفتاوى الحامدية: وَأَمَّا الْجَاهِلُ إذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةِ الْكُفْرِ وَلَمْ يَدْرِ أَنَّهَا كُفْرٌ قَالَ بَعْضُهُمْ لَا يَكُونُ كُفْرًا وَيُعْذَرُ بِالْجَهْلِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَصِيرُ كَافِرًا بِذَلِكَ.
وَمَنْ أَتَى بِلَفْظَةِ الْكُفْرِ وَهُوَ لَمْ يَعْلَمْ أَنَّهَا كُفْرٌ إلَّا أَنَّهُ أَتَى بِهَا عَنْ اخْتِيَارٍ يَكْفُرُ عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ خِلَافًا لِلْبَعْضِ وَلَا يُعْذَرُ بِالْجَهْلِ.
أَمَّا إذَا أَرَادَ أَنْ يَتَكَلَّمَ فَجَرَى عَلَى لِسَانِهِ كَلِمَةُ الْكُفْرِ وَالْعِيَاذُ بِاَللَّهِ تَعَالَى مِنْ غَيْرِ قَصْدٍ لَا يَكْفُرُ كَمَا صَرَّحَ بِذَلِكَ فِي الْخُلَاصَةِ . اهـ تنقيح الفتاوى الحامدية.

## د مسلمان ایمان او یا اسلام او یا دین او یا مذهب ته د کنځلو حکم

اوکه چېرته کوم مسلمان ایمان اویااسلام ته کنځل وکړي نوداسي مسلمان کافر کیږي ،همدارنګه که کوم مسلمان مذهب ته کنځل وکړي،نوکه دده مراد اومقصد دمذهب څخه هغه مذهب دامامانو وی چه له قرآن اوحدیث څخه ثابت دي ، نودغه مسلمان کافر کیږي ،اوکه دده مراد اومقصد دمذهب څخه هغه غلطه طریقه اولاړ وي ، نودغه مسلمان بیا نه کافر کیږي

همدارنګه که کوم مسلمان دین ته کنځل وکړي،نوکه دده مراد اومقصد دمذهب څخه ددین څخه دین داسلام وي نودغه مسلمان کافر کیږي.

اوکه دده مراد اومقصد ددین څخه هغه غلطه طریقه اولاړ وي ، نودغه مسلمان بیا نه کافر کیږي

لکن احتیاط دادي چه مسلمان چه کله دین ته کنځل وکړي ،نو باید په خپله ښځه باندي نکاح تازه کړي همدارنګه په ردالمحتار کې ذکر شوي دي[1].

---

وفي الهندية الخاطئ إذا أجرى على لسانه كلمة الكفر خطأ بأن كان يريد أن يتكلم بما ليس بكفر فجرى على لسانه كلمة الكفر خطأ لم يكن ذلك كفرا عند الكل كذا في فتاوى قاضي خان اهـ

قال القونوي رحمه الله تعالى: ولو تلفظ بكلمة الكفر طائعا غير معتقد له يكفر لأنه راض بمباشرته وإن لم يرض بحكمه كالهازل به فإنه يكفروإن لم يرض بحكمه ولايعذر بالجهل وهذاعند عامة العلماء خلافاللبعض اهـ شرح ملا علي القاري

رجل كفر بلسانه طائعا . وقلبه مطمئن بالإيمان يكون كافرا ولا يكون عند الله مؤمنا كذا في فتاوى قاضي خان اهـ الهندية

[1] - قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى ثم إن مقتضى كلامهم أيضا أنه لا يكفر بشتم دين مسلم: أي لا يحكم بكفره لإمكان التأويل.

ثم رأيته في جامع الفصولين حيث قال بعد كلام أقول: وعلى هذا ينبغي أن يكفر من شتم دين مسلم . ولكن يمكن التأويل بأن مراده أخلاقه الرديئة ومعاملته القبيحة لا حقيقة دين الإسلام ، فينبغي أن لا يكفر حينئذ ، والله تعالى أعلم ا هـ وأقره في نور العين . ومفهومه أنه لا يحكم بفسخ النكاح . وفيه البحث الذي قلناه

## دکفر په خبرو باندي دخندلو حکم

که چېرته دکوم مسلمان دخولې څخه دکفر لفظ اوخبره ووتله په خپل اختیار سره اوبل مسلمان په خپل اختیار اورضاء سره په هغې باندي وخندل نو په دواړو باندي دکفر حکم کیږي ،مگر که بغیر داختیار څخه ئې دوجې دتعجب څخه وخندل ،نو بیا په دغه خندیدونکي باندي دکفر حکم نه کیږي .

همدارنګه په مجمع الانهر ،اوپه شرح دملا علي قاري اوپه المحیط البرهاني کې ذکر شوي دي (۱).

## حکم دهغه چا چه الله تعالی ﷻ ته مکان اوځای ثابتوي

زمونږ داهل السنة والجماعة دا عقیده ده چه الله تعالی ﷻ په اعتبار دعلم اوقدرت سره هرچیرته ده لکن په اعتبار دذات سره دمکان اوځای څخه منزه او پاك ده ،هرڅوك چه الله تعالی ﷻ ته مکان اوځای ثابتوي هغه انسان کافر ده ،نو که

---

وَأَمَّا أَمْرُهُ بِتَجْدِيدِ النِّكَاحِ فَهُوَ لَا شَكَّ فِيهِ احْتِيَاطًا خُصُوصًا فِي حَقِّ الْهَمَجِ الْأَرْذَالِ الَّذِينَ يَشْتُمُونَ بِهَذِهِ الْكَلِمَةِ فَإِنَّهُمْ لَا يَخْطُرُ عَلَى بَالِهِمْ هَذَا الْمَعْنَى أَصْلًا . اهـ ردالمحتار

۱ -فی مجمع الانهر: وَمَنْ تَكَلَّمَ بِكَلِمَةِ الْكُفْرِ وَضَحِكَ مِنْهُ آخَرُ كَفَرَ الضَّاحِكُ وَالْمُتَكَلِّمُ إلَّا أَنْ يَكُونَ ضَرُورِيًّا بِأَنْ يَكُونَ الْكَلَامُ مُضْحِكًا وَلَوْ تَكَلَّمَ الْوَاعِظُ بِكَلِمَةِ الْكُفْرِ وَقَبِلَ مِنْهُ الْقَوْمُ كَفَرَ الْكُلُّ .

وَقِيلَ : إذَا سَكَتَ الْقَوْمُ عَنْ الذِّكْرِ وَجَلَسُوا عِنْدَهُ بَعْدَ تَكَلُّمِهِ بِالْكُفْرِ كَفَرُوا إذَا عَلِمُوا أَنَّ هَذِهِ الْكَلِمَةَ كُفْرٌ . اهـ مجمع الانهر

وقال العلامة علی القاری رحمه الله تعالی:وفی خلاصة الفتاوی : من ضحک مع الرضا عمن تکلم بالکفر کفرانتهی. ومفهومه أن من ضحک تعجبا من مقالته مع عدم الرضا بحالته لایکفر فالمدار علی الرضاء .

وانما قید المسئلة بالضحک لأن الغالب أن یکون مع الرضاء، ولذا اطلق فی مجمع الفتاوی وقال من تَكَلَّمَ بِكَلِمَةِ الْكُفْرِ وَضَحِكَ به غیره كَفَرَا اهـ شرح ملا علی القاري

کوم انسان داسې ووائي چه له الله تعالى ﷻ څخه هيڅ ځاي خالي نه دي ، نو پدي خبري سره دغه انسان کافر کيږي .

اوکه کوم انسان داسې ووائي چه الله تعالى ﷻ په اسمان کی دی ،نو که مقصود دده له دي څخه الله تعالى ﷻ ته مکان اوځاي ثابتول وي نو دغه انسان کافر کيږي ،اوکه مقصود دده له دي څخه ظاهراً حکايت دهغه شی وی چه په احاديثوکی دهغی ذکر راغلی ده نوبيا دغه انسان نه کافر کيږي

اوکه کوم انسان داسې ووائي چه الله تعالى ﷻ په جنت کي ده ، اوزه به په جنت کي الله تعالى ﷻ ووينم نودغه انسان کافر کيږي .ځکه چه جنت د الله تعالى ﷻ دپاره مکان اوځاي نه دي .

اوکه داسې ئي وويل چه زه به د جنت څخه الله تعالى ﷻ ووينم نوبيا دغه انسان نه کافر کيږي ،همدارنګه په مجمع الانهر ،اوفتاوی عالمګيري ، اوپه المحيط البرهاني کې ذکر شويدي [1].

## جواب له استدلال دبعضي جاهلانو له آياتونو څخه

بعضي جاهلان دبعضي متشابهاتو آياتونو څخه الله تعالى ﷻ ته مکان ثابتوي ،هغه آياتونه دادي . [ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ ] (٥٠) النحل ،وقوله تعالى [

---

[1] -في الهندية :وَيَكْفُرُ بِإِثْبَاتِ الْمَكَانِ لِلَّهِ تَعَالَى فَلَوْ قَالَ : ازخدا هيچ مَكَان خَالِي نيست يَكْفُرُ اه وهكذا في جامع الفصولين ,والمحيط البرهاني

. وفي مجمع الانهر :وَيَكْفُرُ بِقَوْلِهِ يَجُوزُ أَنْ يَفْعَلَ فِعْلًا لَا حِكْمَةَ فِيهِ وَبِإِثْبَاتِ الْمَكَانِ لِلَّهِ تَعَالَى فَإِنْ قَالَ اللَّهُ فِي السَّمَاءِ فَإِنْ قَصَدَ بِهِ حِكَايَةَ مَا جَاءَ فِي ظَاهِرِ الْأَخْبَارِ لَا يَكْفُرُ وَإِذَا أَرَادَ بِهِ الْمَكَانَ كَفَرَ وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ يَكْفُرُ عِنْدَ أَكْثَرِهِمْ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى كَمَا فِي الْبَحْرِ .

وَلَوْ قَالَ أَرَى اللَّهَ تَعَالَى فِي الْجَنَّةِ فَهَذَا كُفْرٌ وَلَوْ قَالَ مِنْ الْجَنَّةِ فَلَيْسَ بِكُفْرٍ لَكِنْ فِي الْفُصُولَيْنِ يَنْبَغِي أَنْ يَكْفُرَ لَوْ جَعَلَ الْجَنَّةَ ظَرْفًا لِلَّهِ تَعَالَى لَا لَوْ جَعَلَهَا لِنَفْسِهِ وَاللَّفْظُ يَحْتَمِلُهُمَا اه مجمع الانهر وهكذا في الهندية

ءامنتم مَن فِي السماء ] [ الملك : ١٦ ] وقوله تعالى [ وَهُوَ اللّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَفِي الأَرْضِ (٣)، الانعام

ددي ځخه جواب دادي ،چه اول خو دغه آياتونه دمتشابهاتو څخه دى ،ددي علم الله تعالى ﷻ ده ،ددي چه كوم حقيقة اومطلب ده زمونږ په هغي باندي ايمان ده ،اوداقول دسلفو علماؤده.

اومتأخرينو علماؤ په دي كى داسي تأويلات كړيدي چه دهغي دوجى څخه الله تعالى ﷻ ته مكان نه ثابتيږي ،ځكه چا الله تعالى ﷻ دمكان څخه منزه اوپاك دى.

ددغومتشابهاتو صحيح تفسير اوتأويل په تفصيل سره په لاندي معتمدو تفسيرونوكي وګورى ، التفسير المظهري ،تفسير القاضي البيضاوي ، تفسير روح المعاني ، تفسير الخازن ، تفسيراحكام القرآن للقرطبي ،تفسيرروح البيان ،التفسير الكبير ، تفسير المدارك [1].

---

[1] - قوله تعالى : يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (٥٠)، النحل

قال العلامة الالوسي : قوله تعالى :[ مِّن فَوْقِهِمْ ] إما متعلق بيخافون وخوف ربهم كناية عن خوف عذابه أو الكلام على تقدير مضاف هو العذاب على ما هو الظاهر أو متعلق بمحذوف وقع حالاً من [ رَبَّهُم ] أي كائناً من فوقهم ، ومعنى كونه سبحانه فوقهم قهره وغلبته لأن الفوقية المكانية مستحيلة بالنسبة إليه تعالى . ومذهب السلف قد أسلفناه لك اهـ روح المعاني قال الامام الرازي : واعلم أن المشبهة احتجوا على إثبات المكان لله تعالى بقوله:

[ ءامنتم مَّن فِي السماء ] ، والجواب عنه أن هذه الآية لا يمكن إجراؤها على ظاهرها باتفاق المسلمين ، لأن كونه في السماء يقتضي كون السماء محيطاً به من جميع الجوانب ، فيكون أصغر من السماء ، والسماء أصغر من العرش بكثير ، فيلزم أن يكون الله تعالى شيئاً حقيراً بالنسبة إلى العرش ، وذلك باتفاق أهل الإسلام محال ، ولأنه تعالى قال : [ قُل لِّمَن مَّا فِي السموات والأرض قُل للَّهِ ] [ الأنعام : ١٢ ]

فلو كان الله في السماء لوجب أن يكون مالكاً لنفسه وهذا محال ، فعلمنا أن هذه الآية يجب صرفها عن ظاهرها إلى التأويل ، ثم فيه وجوه . أحدها : لم لا يجوز أن يكون تقدير الآية - ءأمنتم من في السماء عذابه ، وذلك لأن عادة الله تعالى جارية ، بأنه إنما ينزل البلاء

على من يكفر بالله ويعصيه من السماء فالسماء موضع عذابه تعالى ، كما أنه موضع نزول رحمته ونعمته .

وثانيها : قال أبو مسلم : كانت العرب مقرين بوجود الإله ، لكنهم كانوا يعتقدون أنه في السماء على وفق قول المشبهة ، فكأنه تعالى قال لهم : أتأمنون من قد أقررتم بأنه في السماء ، واعترفتم له بالقدرة على ما يشاء أن يخسف بكم الأرض .

وثالثها : تقدير الآية : من في السماء سلطانه وملكه وقدرته ، والغرض من ذكر السماء تفخيم سلطان الله وتعظيم قدرته ، كما قال : { وَهُوَ اللهُ فِي السموات وَفِي الأَرض } [ الأنعام : ٣ ] فإن الشيء الواحد لا يكون دفعة واحدة في مكانين .

ورابعها : لم لا يجوز أن يكون المراد بقوله : { مَّن فِي السماء } الملك الموكل بالعذاب ، وهو جبريل عليه السلام ، والمعنى أن يخسف بهم الأرض بأمر الله وإذنه . اهـ التفسير الكبير

وفي احكام القرآن للقرطبي : قوله تعالى : { ءامِنتم مَّن فِي السماء } قال ابن عباس: آأمنتم عذاب من في السماء إن عصيتموه.

وقيل: تقديره آأمنتم من في السماء قدرته وسلطانه وعرشه ومملكته.

وخص السماء وإن عم ملكه تنبيها على أن الاله الذي تنفذ قدرته في السماء لا من يعظمونه في الأرض وقيل: هو إشارة إلى الملائكة ،وقيل: إلى جبريل وهو الملك الموكل بالعذاب .اهـ

في المظهري : قوله تعالى : { ءامِنتم مَّن فِي السماء } قال ابن عباس أي عذابه من في السماء إن عصوا والمراد بمن في السماء هو الله سبحانه عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ ينزل ربنا تبارك وتعالى كل ليلة إلى السماء الدنيا حين يبقى ثلث الليل الآخر يقول من يدعوني فأستجيب له من يسألني فأعطيته من يستغفر فأغفر له متفق عليه .

فالآية من المتشابهات لكونه تعالى منزها عن التمكين في السماء ،فمذهب السلف السكوت وقول الصوفية كما ذكرنا في تفسير قوله تعالى يأتيهم الله في ظلل من الغمام .

وللمتأخرين تأويلات بأن في السماء أمره وقضاء ،أو هو فيها على زعم العرب أو المراد بالسماء الرفعة والعلو من حيث الرتبة دون المكان والإستفهام للإنكار .

وقيل : المراد بمن في السماء الملائكة الموكلين على تدبير الأمور .اهـ المظهري

قوله تعالى :وَهُوَ اللّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَفِي الأَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ (٣) الانعام

في روح البيان: { وهو } اى الله تعالى مبتدأ خبره قوله { الله } باعتبار المعنى الوصفي أي المعبود ولذا تعلق به قوله { في السموات وفي الأرض } والمعنى هو المعبود والمستحق للعبادة فيهما ولا يلزم من كونه تعالى معبودا فيهما كونه متحيزا فيهما فإنه منزه عن الزمان والمكان اهـ روح البيان

قال الامام الرازي القائلون بأن الله تعالى مختص بالمكان تمسكوا بهذه الآية وهو قوله { وَهُوَ اللهُ فِي السموات } وذلك يدل على أن الإله مستقر في السماء الدلالة أولاً على أنه لا يمكن حمل هذا الكلام على ظاهره. وذلك من وجوه. الأول: أنه تعالى قال في هذه السورة { قُل لِّمَن مَّا فِي السموات والارض قُل لِّلَّهِ } { الأنعام: ١٢ } فبيّن بهذه الآية أن كل ما في السموات والأرض فهو ملك لله تعالى ومملوك له. فلو كان الله أحد الأشياء الموجودة في السموات لزم كونه ملكاً لنفسه. وذلك محال

والثاني: أن قوله { وَهُوَ اللهُ فِي السموات } إما أن يكون المراد منه أنه موجود في جميع السموات، أو المراد أنه موجود في سماء واحدة، والثاني: ترك للظاهر والأول: على قسمين لأنه إما أن يكون الحاصل منه تعالى في أحد السموات عين ما حصل منه في سائر السموات أو غيره، والأول: يقتضي حصول المتحيز الواحد في مكانين وهو باطل ببديهة العقل، والثاني: يقتضي كونه تعالى مركباً من الأجزاء والأبعاض وهو محال.

والثالث: أنه لو كان موجوداً في السماوات لكان محدوداً متناهياً وكل ما كان كذلك كان قبوله للزيادة والنقصان ممكناً، وكل ما كان كذلك كان اختصاصه بالمقدار المعين لتخصيص مخصص وتقدير مقدر وكل ما كان كذلك فهو محدث.

والرابع: أنه لو كان في السموات فهل يقدر على خلق عالم آخر فوق هذه السموات أو لا يقدر، والثاني: يوجب تعجيزه والأول: يقتضي أنه تعالى لو فعل ذلك لحصل تحت هذا العالم، والقوم ينكرون كونه تحت العالم.

والخامس: أنه تعالى قال: { وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَمَا كُنتُمْ } { الحديد: ٤ } وقال { وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الوريد } { ق: ١٦ } وقال: { وَهُوَ الذى فِى السماء إله وَفِى الأرض إله } { الزخرف: ٨٤ } وقال { فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ } { البقرة: ١١٥ } وكل ذلك يبطل القول بالمكان والجهة لله تعالى

فثبت بهذه الدلائل أنه لا يمكن حمل هذا الكلام على ظاهره فوجب التأويل وهو من وجوه: الأول: أن قوله { وَهُوَ اللهُ فِى السموات وَفِى الأرض } يعني وهو الله في تدبير

## جواب له استدلال دبعضي جاهلانو له احاديثو څخه

همدارنګه بعضې کسان دغه لاندي حديث څخه هم الله تعالی ته مکان ثابتوي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ينزل ربنا تبارك وتعالى كل ليلة إلى السماء الدنيا حين يبقى ثلث الليل الآخر يقول: من يدعوني فأستجيب له؟ من يسألني فأعطيه؟ من يستغفرني فأغفر له. متفق عليه

جواب ددي څخه دادي چه مراد دنزول څخه هغه نزول دامر دالله تعالی ده بعضې ملائکو ته، اويا دالله تعالی منادی اوآواز کوونکی مراددي، همدارنګه ملا علي القاري ذکر کړيدي، اوعلامة ابن حجر ويلی دی: يعني نازليږي امر دالله تعالی، اورحمت دده، اويا ملائکې دده.

اودوهم تأويل ددی حديث داده چه الله تعالی دغه بنده ته متوجه کيږي په قبلولو ددعاء سره، اوالله تعالی په ده باندی رحمت نازلوی، اوعذر ئې قبلوی همدارنګه په مرقات المفاتيح شرح دمشکوة المصابيح کې ذکر شويدي[1].

همدارنګه بعضې کسان دغه لاندي حديث څخه هم الله تعالی ته مکان ثابتوي.

---

السموات والارض كما يقال: فلان في أمر كذا أي في تدبيره وإصلاح مهماته، ونظيره قوله تعالى: { وَهُوَ الذى فى السماء إله وفِى الارض إله }.

والثاني: أن قوله { وَهُوَ الله } كلام تام، ثم ابتدأ وقال: { فِي السموات وَفِى الارض يَعلَمُ سِرّكُمْ وَجَهْرَكُمْ } والمعنى إله سبحانه وتعالى يعلم في السموات سرائر الملائكة، وفي الأرض يعلم سرائر الإنس والجن.

والثالث: أن يكون الكلام على التقديم والتأخير والتقدير: وهو الله يعلم في السموات وفي الأرض سركم وجهركم اهـ التفسير الكبير

[1] -قال علي القاري: قوله: ينزل ربنا أي أمره لبعض ملائكته. أو ينزل مناديه تبارك كثر خيره ورحمته وآثار جماله وتعالى عن صفات المخلوقين من الطلوع والنزول وارتفع عن سمات الحدوث بكبريائه وعظمته وجلاله

في المشكوة المصابيح : عن معاوية بن الحكم قال : أتيت رسول الله ﷺ فقلت : يا رسول الله إن جارية كانت لي ترعى غنما لي فجئتها وقد فقدت شاة من الغنم فسألتها عنها فقالت : أكلها الذئب فأسفت عليها وكنت من بني آدم فلطمت وجهها وعلي رقبة

---

قال ابن حجر : أي ينزل أمره ورحمته أو ملائكته وهذا تأويل الإمام مالك وغيره ويدل له الحديث الصحيح أن الله عز وجل يمهل حتى يمضي شطر الليل ثم يأمر مناديا ينادي فيقول هل من داع فيستجاب له الحديث .

والتأويل الثاني ونسب إلى مالك أيضا أنه على سبيل الاستعارة ومعناه الاقبال على الداعي بالإجابة واللطف والرحمة وقبول المعذرة كما هو عادة الكرماء لاسيما الملوك إذا نزلوا بقرب محتاجين ملهوفين مستضعفين .

قال النووي في شرح مسلم : في هذا الحديث وشبهه من أحاديث الصفات وآياتها مذهبان مشهوران فمذهب جمهور السلف وبعض المتكلمين الإيمان بحقيقتها على ما يليق به تعالى وأن ظاهرها المتعارف في حقنا غير مراد ولانتكلم في تأويلها ما اعتقادنا تنزيه الله سبحانه عن سائر سمات الحدوث .

والثاني مذهب أكثر المتكلمين وجماعة من السلف وهو محكي عن مالك والأوزاعي إنما يتأول على ما يليق بها بحسب بواطنها فعليه الخبر مؤول بتأويلين أي المذكورين بكلامه وبكلام الشيخ الرباني أبي إسحاق الشيرازي وإمام الحرمين والغزالي وغيرهم من أئمتنا وغيرهم يعلم أن المذهبين متفقان على صرف تلك الظواهر كالمجيء والصورة والشخص والرجل والقدم واليد والوجه والغضب والرحمة والاستواء على العرش والكون في السماء وغير ذلك مما يفهمه ظاهرها لما يلزم عليه من محالات قطعية البطلان تستلزم أشياء يحكم بكفرها بالإجماع فاضطر ذلك جميع الخلف والسلف إلى صرف اللفظ عن ظاهره .

